مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ازاده ژباړه، محمدابراهیم سپیځلی

۲۰۲۶/۱۰/۲۹

د فکر کړکۍ

ستا ښه والی هغه چاته ښه معلومیږي، چې خپله یې د زړه هنداره پاکه وي.

د پوهې په درنښت دي هغه څوک ښه پوهیږي، چې خپله د پوهې په ګټنه سمبال وي.

درانه خلک ځکه ستا په قدر پوهیږي،چې خپله درانه دي.

د چا په زړه کې، چې شک وي هغه هر چاته د شک په سترګه ګوري او مهربان خلک بیا نرم چلنده وي.

ته همېشه هغه یې، خو خلک تاته د خپل فکر له کړکۍ څخه ګوري.

که یو څوک له تا کرکه کوي په کیسه کې یې مه کېږه! ځکه هغوی خپله کرکجن دي.

ته د خلکو د فکري لیدلوري مسؤل نه یې، یوازې د هغې هنداري مسؤلیت ستا پر غاړه دی، چې تا د ځان لپاره جوړه کړې ده.

ځکه خو وایي " هغه چا، چې پر ما تور لاس پاک کړ، دا د ده د سیرت ککړتیا ده.

او څوک، چې ما په ښو یادوي، خپله ښه انسان دی.

زمور رحمان بابا دغه ټولې خبرې په یوه بیت کې داسې رانغاړي:

"د مات لوښي اواز کله ثابت خیژی
د هر چاعمل څرګند په خپل ګفتار شي".

۲۸ اکتوبر ۲۰۲۶
الفتر ، میکنهایم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ